# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې دویمه | د ۲۰۱۹ د جنورۍ ۲۲مه | دویم کال| ۳۲۲مه گڼه


خپره

۴ مخ

## فطرت ناشناس



ناشناس د افغانستان د گوتو په شمېر سندرغاړو او غزلبولانو څخه دی چې کورني او بهرني مډالونه او ستاینلیکونه یې تر لاسه کړي دي.

## ترخبرداریو او ناندریو وروسته؛

# یو ځل بیا د طالبانو او امریکا ترمنځ په دوحه کې خبرې روانې دي




د سولې هڅو ته لا هم هیله شته؟

۲ مخ

د سولې خبرو اوسنی پړاو او د بُن‌بست وېره

۲ مخ

څنگه د اولادونو ترمنځ تبعیض له منځه یوسو؟

۵ مخ

## په بلخ کې د ځمکني ټرانسپورټ عواید نږدې ۲۰ میلیونه افغانۍ ډېر شوي دي



په بلخ کې د ځمکني ټرانسپورټ ریاست مسوولان وایي، د ۱۳۹۷ لمریز کال په عوایدو کې کابو شل میلیونه افغانۍ زیاتوالی راغلی دی.

د دغه ریاست مشر مصطفی سروش ازادي راډیو ته ویلي چې په روان کال کې یې د عوایدو مجموعي شمېر څه باندې ۹۱ میلیونو افغانیو ته رسېږي چې دا رقم په ۱۳۹۶ لمریز کال کې څه باندې ۷۲ میلیونه افغانۍ و.

سروش ویلي، که د ناامنۍ له امله د سمنگان له دره صوف ولسوالۍ، مزارشریف ته د ډبرو سکرو په لېږد کې کموالی نه وای راغلی، اوسمهال به د بلخ د ځمکني ټرانسپورټ ټولیز عواید څه باندې ۱۰۰ میلیونه افغانۍ وای.

مسوولان وایي، هڅه کوي چې په مزارشریف کې د سړکونو د تنگوالي او د ترمینلونو د نشتون له امله په ښار کې د گاډو د گڼې گوڼې ستونزه چې خلک ترې شکایت لري، ډېره ژر حل کړي.

## رویټرز: په میدان وردگو کې د ملي امنیت پر سرتېرو په پروني برید کې ۱۲۶ سرتېري وژل شوي

رویټرز خبري اژانس ته د دفاع وزارت یوه چارواکي د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې په میدان وردگو کې د ملي امنیت ځانگړو ځواکونو پر قطعه د طالبانو په پروني برید کې ۱۲۶ سرتېري وژل شوي چې په وژل شویو کې اته کوماندو سرتېري هم شامل دي.

سرچینې ویلي، برید تېره ورځ سهار هغه مهال رامنځته شو، کله چې وسله والو طالبانو د ملي امنیت د روزنې مرکز دننه له چاودېدونکو توکو ډک موټر ته چاودنه ورکړه او وروسته دوو نورو بریدگرو په دغه مرکز کې له امنیتي ځواکونو سره نښته پیل کړه.


دغه راز د میدان وردگو یوې حکومتي سرچینې هم رویټرز ته ویلي چې په دغه برید کې د ملي امنیت تر ۱۰۰ ډېر سرتېري وژل شوي دي.

بلخوا د میدان وردگو د ولایتي شورا غړي شریف الله ویلي، په دغه برید کې د ملي امنیت ۳۵ سرتېري وژل شوي او لسگونه نور ټپیان شوي دي. نوموړي رویټرز ته ویلي: «په دغه برید کې ۳۵ سرتېري وژل شوي او لسگونه نور ټپیان دي چې ځینې یې کابل ته هم انتقال شوي دي».

خو د وردگو د والي ویاند عبدالرحمن منگل ویلي، چې په بریدکې ۱۲ سرتېري وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان دي.

وسله والو طالبانو د دغه برید مسوولیت منلی دی. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په خپل ټویټر لیکلي چې برید د هاموي موټر په واسطه شوی چې لسگونه امنیتي سرتېري پکې وژل شوي دي.

## د سولې هڅې پر سم لوري روانې دي او ښې پایلې به ولري



۲ مخ

## کمیسیون شکایات: مراحل مقدماتی بالای شکایات حوزه کابل آغاز شده‌است




کمیسیون شکایات انتخاباتی می‌گوید که مراحل مقدماتی بالای شکایات حوزه کابل اغاز شده‌است.

این کمیسیون می گوید که حجم شکایات در حوزه کابل بیشتر است و کمیشنران ولایتی این کمیسیون نیز برای رسیدگی به این شکایات به کابل خواسته شده‌اند.

علی رضا روحانی سخنگوی این کمیسیون گفت که مراحل مقدماتی رسیدگی به این شکایات آغاز شده‌است.

وی افزود: «مراحل شروع است، تصنیف، بررسی، تحلیل، رسیدگی و صدور فیصله شروع شده و دو هفته پس از زمان ثبت مهلت برای اتمام رسیدگی به شکایات از سوی دفتر ولایتی است که باید در همین مدت تمام شود و به دنبال آن اگر شکایات موجود باشد، دو هفته دیگر کمیسیون مرکزی زمان دارد که به تمام قضایا رسیدگی کند».

آقای روحانی می‌گوید که یک هزار شکایت در پیوند به لیست ابتدایی کابل ثبت شده است.

پیش از این کمیسیون شکایات انتخاباتی گفته است، با توجه به عمل نکردن کمیسیون مستقل انتخابات به تعهدات قبلی‌اش و تعدد شکایات، ممکن این کمیسیون به تصمیم پیشین‌اش در مورد ابطال آرای حوزه کابل تأکید کند.

شماری از کاندیدان معترض ولسی جرگه از ولایت کابل نیز گفته اند در انتخابات ولسی جرگه تقلب صورت گرفته و نتایج آن‌را نمی‌پذیرند. آنان گفته اند که در جریان بازشماری و تفتیش آرا فساد مالی در داخل کمیسیون انتخابات صورت گرفته است و خواهان تأمین عدالت اند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal
ENGLISH ACADEMY

ADMISSION OPEN

Dehbori, Second street behind Dehbori Park, 3rd district, Kabul, Afghanistan. 0784189282

## دریځ

### د سولې هڅو ته لا هم هیله شته؟

د سولې په تړاو د خنډ او ځنډ له خبرونو وروسته اوس یو ځل بیا د خبرو د پیل څرکونه لیدل کېږي. ویل کېږي چې زلمی خلیلزاد قطر ته تللی او هلته به له طالبانو سره ګوري. دا له هغه وروسته کېږي چې طالبانو په پاکستان او سعودي کې له خبرو انکار وکړ او ټینګار یې وکړ چې امریکا دې پر اصلي اجنډا چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسئله ده، خبرو ته حاضره شي.

لا وختي ده چې ووایو د سولې خبرې خپل اصلي مسیر ته ور ګرځېدلې دي. امریکایي استازي لا هم د دې پر ځای چې له طالبانو سره مخکې ولاړ شي او د دواړو اړخونو پر غوښتنو بحث وکړي، له پاکستان سره خبرې کوي، څو پر طالبانو فشار راوړي. په دې وروستیو کې پاکستان ته د امریکایي چارواکو سفرونه په کم ساري ډول ډېر شوي دي. په همدې څو ورځو کې زلمي خلیلزاد، د امریکا د ملي امنیت شورا مرستیالې، مهمو سناتورانو او پرون بیا د امریکایي پوځ د مرکزي قومندانۍ قوماندان جنرال جوزف ووټل اسلام اباد ته تللی دی. دوی له پاکستان نه غوښتي چې د سولې په پروسه کې مرسته وکړي.

د سولې په پروسه کې له پاکستان څخه د امریکا د مرستې غوښتنه ښکار ده. دوی له پاکستانه غواړي چې طالبان مجبور کړي څو امریکایي غوښتنې ومني. امریکا به د طالبانو له نورو غوښتنو سره جدي ستونزه ونه لري، خو له افغان حکومت سره مخامخ خبرې او د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدلو بحث د امریکا لپاره مهم دي. دوی له حکومت سره مخامخ خبرو ته طالبان ځکه حاضروي چې حیثیت ته یې زیان وا نه وړي او دا پیغام ونه لېږدول شي چې دوی ماتې خوړلې او اوس خبرې کوي. نظامي اډې هم د دوی لپاره مهمې دي او په سیمه کې د خپلو اهدافو لپاره غواړي چې په افغانستان کې نظامي حضور ولري. له همدې امله له پاکستان څخه غواړي چې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي. پاکستان بیا له امریکا امتیاز غواړي او ډاډ ورکوي چې په بدل کې به یې دا کار کوي، خو دا مهمه او جدي پوښتنه ده چې پاکستان اوس کولی شي پر طالبانو هر څه ومني؟ وروستیو بدلونو ښودلې چې پاکستان فشار راوړلی شي، خو طالبان له خپلو سرو کرښو نه شي اړولی. امریکا به فکر کوي چې پاکستان نه غواړي او لا هم دوه مخې لوبه کوي، یا ښایي ډېر امتیازات غواړي، نو ځکه بیا بیا امریکایي چارواکي پاکستان ته ورځي، څو پاکستان رښتینې همکارۍ ته تیار کړي.

که د امریکا تګلاره لا هم د پاکستان له لارې د فشار او زور د کارولو پر مټ خبرو او امریکایي غوښتنو ته د طالبانو تیارول وي، نو ستونزمنه ده چې دا چاره به افغانستان ته سوله او ثبات را وګرځوي. که امریکا د سولې اصلي مسیر ته ور ګرځي، له طالبانو سره د امریکایي ځواکونو پر وتلو او په دې تړاو چې افغانستان به بیا د امریکا پر ضد نه کارول کېږي، خبرې کوي، نو ویلی شو چې د سولې خبرې بېرته خپل اصلي مسیر ته ور ګرځېدلې دي او له ستونزه سره به دا هڅې بریالۍ کېږي.

# د سولې خبرو اوسنی پړاو او د بُن‌بست وېره

لیکنه: ذاکر جلالي

په تېرو اکتوبر او نومبر میاشتو کې د طالبانو او خلیلزاد ترمنځ دوه پړاوه خبرې په قطر کې وشوې. د خبرو درېیم پړاو په نابېره توګه د قطر پر ځای په ابوظبۍ کې وشوې او سعودي، امارات او پاکستان هم د څارونکو په توګه پکې شامل شول. دغه درې هېوادونه، خصوصاً سعودي او امارات په سیمه کې تر ډېره د امریکا د ګټو لپاره لوبېږي. کله چې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ هم ابتدایي خبرې وشوې او کرار کرار اصلي مسئلې ته ورلنډېدل، خلیلزاد د سعودي او اماراتو پر مټ د ابوظبۍ په ناسته کې له طالبانو وغوښتل چې باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي. خلیلزاد استدلال کړی و چې د بندیانو د تبادلې، له تور لېسته د طالب مشرانو د نومونو لرې کولو او حتا په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور او وتلو بحثونه باید طالبان له کابل سره مطرح کړي. په ابوظبۍ کې د مذاکراتو په اړه بل ټکی دا دی چې د ۲۰۱۷ ز له جون راهیسې د سعودي په مشرۍ د اماراتو، بحرین او قطر ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې پرې دي. په ابوظبۍ کې ناستې، قطر د افغان سولې له بهیره ګوښه کړ. د ابوظبۍ له ناستې سره دا احتمال ډېر قوي شو چې ښایي د طالبانو او قطر ترمنځ چې له کلونو راهیسې د طالبانو کوربه دی، اړیکې خرابې شي.

د باوري سرچینو په حواله، د ابوظبۍ له خبرو دواړه لوري خوشاله نه وو. خلیلزاد، سعودي او امارات ځکه خوشاله نه وو چې ویې نه شوای کولای چې طالبان قانع کړي، څو افغان حکومت سره خبرې وکړي. پاکستان هم چې امریکا، سعودي او اماراتو ته یې ټټر وهلی و، چې طالبان به چمتو کړي، څو له افغان حکومت سره وګوري، هم ناراضه و. طالبان ځکه ناراضه وو چې غوښتل یې له خلیلزاد سره د بهرنیو ځواکونو د شتون او وتلو په تړاو خبرې وکړي؛ خو دوی په خبرو کې له افغان حکومت سره د خبرو بحث مطرح کړ او پر طالبانو یې فشارونه راوړل. د دې ترڅنګ له طالبانو غوښتل شوي وو چې د خبرو راتلونکی پړاو به په سعودي کې کېږي او افغان حکومت به هم پکې برخه اخلي. لکه څنګه چې توقع کېده، طالبانو د سعودي په کوربه توب د سولې خبرو کې له ګډون ډډه وکړه. د سعودي او طالبانو ترمنځ د اړیکو مخینه له یوې خوا او قطر سره د طالبانو نږدې اړیکې له بلې خوا، فکر نه کېږي چې په راتلونکي کې هم طالبان په سعودي کې غونډې ته چمتو شي.

د دغه ټول وضعیت په پام کې نیولو سره، طالبانو د جنورۍ په ۱۵مه، په یوه اعلامیه کې ګواښ وکړ چې که امریکایي لوری د فشار او تکتیکي چلن هڅه کوي، ښایي د خبرو روانه لړۍ ودرول شي. د طالبانو له اعلامیې له ورایه ښکاري چې د ابوظبۍ له ناستې ناراضي دي. د بېلګې په ډول، یو ځای راغلي چې که امریکایان «د نورو هېوادونو د تطمیع له لارې ناروا فشارونه اچوي، دا معنا لري چې د افغانستان د مسئلې سوله ییز حل کې دلچسپي نه لري».

په اعلامیه کې ویلي شوي، چې د دوحې په غونډه کې موافقه شوې وه چې راتلونکې غونډه کې به له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د نورو هېوادونو پر خلاف د افغانستان د خاورې د نه استعمالولو پر موضوع خبرې کېږي. طالبان وایي چې اوس امریکایان له دې اجنډا څخه ډډه کوي، نو ځکه دوی امریکایانو ته خبرداری ورکوي چې د دغه وضعیت دوام به طالبان اړ کړي، څو د سولې خبرې تر هغې وځنډوي چې امریکایي لوری له فشار او تکتیکي برخورد پرته خبرو ته را وړاندې شي.

له دغې اعلامیې یوه ورځ وروسته، طالبانو پر خپله رسمي وېبپاڼه د ورځې خبرې تر سرلیک لاندې هم ویلي، چې ښایي مذاکراتي بهیر د ډېر وخت لپاره له ځنډ او خنډ سره مخ شي.

یو ټکی د پام وړ دی، کله چې خلیلزاد د ابوظبۍ له خبرو کابل ته راوګرځېد، د دې پوښتنې په ځواب کې چې مذاکراتو کې د امریکایانو او طالبانو سرې کرښې کومې دي؟ خلیلزاد په څرګندو ټکو وویل چې د طالبانو سره کرښه له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل دي او د امریکایانو سره کرښه دا ده چې راتلونکې کې افغانستان د ترهګرو په خوندي ځای بدل نه شي او امریکا ته بیا ګواښ پېښ نه کړي. که دغو دوو سرو کرښو ته پام وکړو، دواړې غاړې سوله ییز حل ته ډېرې لنډې دي؛ خو په دې شرط چې رښتیا هم همدا سرې کرښې وي او نورې اجنډاوې پکې نه وي مطرح.

اصلي مسئله دا ده چې دواړه لوري د سولې خبرو ته له جلا جلا زاویو ګوري؛ د امریکایي لوري نظر دا دی چې طالبان چې کومې غوښتنې لري، هغه باید له افغان حکومت سره مطرح کړي، بیا به افغان حکومت په ځینو مواردو کې خپله اقدام کوي او په ځینو مواردو کې به له نړیوالو غواړي چې اقدام وکړي. معنا دا چې امریکایان افغان حکومت په رسمیت پېژني او د افغان سولې په تړاو افغان حکومت د یوازینی تصمیم نیوونکي لوري په توګه پېژني. دلته که د طالبانو سره کرښه چې خلیلزاد تایید کړې، په پام کې ونیسي، د سولې په دغسې بحث کې له پامه غورځول کېږي؛ ځکه دا به ډېره ستونزمنه وي چې افغان حکومت د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنې په څېر مهمې مسئلې راپورته کړای شي.

طالبان بیا په دې نظر دي چې د سولې خبرو په لومړي پړاو کې باید له امریکا سره خبره سپینه شي، د امریکایي ځواکونو د وتلو بحث باید له امریکایانو سره خلاص شي، بیا به له افغانانو سره خبرې کېږي. دا هغه ټکی دی چې که د قطر د خبرو لړۍ دوام کړی وای، دواړه لوري ورته رسېدونکي وو، خو دا معلومه نه ده چې ولې خلیلزاد د خبرو د درېیم پړاو اجنډا او ځای بدل کړل.

د ستونزې جرړه دا ده چې طالبان امریکا د جګړې اصلي لوری بولي؛ خو امریکایان بیا تر دې دمه هڅه کوي، څو د سولې په خبرو کې ځان ته د اسانچاري رول خپل کړي او افغان حکومت او طالبان د جګړې دوه لوري وګڼل شي. کله چې خلیلزاد تېر کال په سپټمبر کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د استازي په توګه وګومارل شو، د طالبانو ګومان دا و چې بالاخره امریکا چمتو شوه، څو د جګړې د یوه لوري په توګه له طالبانو سره خبرو ته کېني چې د ځواکونو د وېستلو بحث به پکې د خبرو اصلي محور وي. خو لیدل کېږي چې له دریو پړاوو خبرو وروسته امریکایي لوری لا هم پر خپل پخواني دریځ ولاړ دی او د دغو خبرو په اوږدو کې غواړي افغان حکومت او طالبان مخامخ خبرې پیل کړي. هغه څه چې تر اوسه طالبان ورته چمتو نه دي.


د دې دواړو لیدلوریو په پام کې نیولو سره، ګومان نه کېږي چې طالبان به د امریکایانو له نظر سره سم د سولې بحث له افغان حکومت سره مطرح کړي. تر دې دمه د سعودي او اماراتو فشارونه هم موثر نه دي واقع شوي او طالبان لا هم پر خپل دریځ ټینګ دي. پاکستان به هم په تکتیکي ډول تر دې بریده فشار راوړي، څو له امریکا امتیاز واخلي؛ خو ګومان نه کېږي چې پاکستان به هم تر هغه بریده فشار راوړي چې له طالبانو سره یې یو مخ اړیکې ترینګلې شي. له بلې خوا پاکستان له افغان حکومت او امریکا سره تر هغې کچې مشترکې ګټې او ښې اړیکې نه لري چې پر طالبانو له حد زیات فشار راوړي، څو له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو شي. له بلې خوا طالبان اوس د تېرو اتلسو کلونو په پرتله هم په کورني لحاظ ځواکمن دي او هم یې په سیمه کې ملاتړي موندلي، که امریکایي لوری پر همدې ټینګار پاتې شي چې طالبان باید له افغان حکومت سره خبرې وکړي، ډېر احتمال شته چې طالبان خبرې وځنډوي.

## اجرایه ریاست: لاهم د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو زمینه نه ده برابره شوې

اجرایه ریاست ویلي، د وسله والو طالبانو او افغان حکومت ترمنځ لا هم د سولې د مخامخ خبرو لپاره زمینه نه ده برابره شوې.

که څه هم د افغان سولې لپاره د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د سولې روانې هڅې پر سم لوري روانې بللې او ویلي یې دي چې په دې برخه کې تر ډېره د پاکستان له لوري اقدامات ښه لور ته روان دي چې ښې پایلې به ولري، خو اجرایه ریاست بیا ویلي چې پاکستان لا هم د افغان سولې په برخه کې عملي اقدامات نه دي کړي او یوازې خپلې پخوانۍ ژمنې تکراروي.

د دغه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون له ازادي راډیو سره په خبرو کې د سیمې هېوادونو ته د زلمي خلیلزاد وروستی سفر د افغان سولې په تړاو، د سیمه ییزې اجماع د پیاوړي کېدو په برخه کې مثبت بللی، خو له پاکستانه یې غوښتي چې خپلو ژمنو ته عملي بڼه ورکړي.



نوموړي زیاته کړې: «پاکستان باید خپلې کړې ژمنې عملي کړي، څو د سولې د خبرو اترو د پیل لپاره زمینه برابره شي چې تر اوسه دا زمینه برابره نه ده. زموږ تمه دا ده چې زلمی خلیلزاد او نور امریکایي مقامات په پاکستان فشار راوړي؛ ځکه لا هم د پاکستان په عمل کې بدلون نه دی راغلی. سره له دې چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي چې کابل ته راغلی و، ښې ژمنې یې وکړې، خو لا عملي شوې نه دي، نو اوس وخت رارسېدلی چې دا ژمنې باید عملي بڼه خپله کړي.»

نوموړي ویلي، که څه هم خلیلزاد د پاکستان د سفر جزیات له افغان حکومت سره نه دي شریک کړي، خو هیله مندي یې ښوده چې نوموړی به د افغان سولې په برخه کې د کابل غوښتنې تر اسلام‌اباده رسولې وي.

دا په داسې حال کې ده چې خلیلزاد د جنورۍ له اتمې، سیمې ته خپل درېیم سفر پیل کړی و چې په ترځ کې یې عربي متحده اماراتو، هند، چین، افغانستان او پاکستان ته ولاړ.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون غړي، سیمې ته د زلمي خلیلزاد د سفر مثبتو پایلو ته په تمه دي.

د دغه کمېسیون غړي نادر خان ګټوازي ویلي چې پاکستان هم بالاخره بله لاره نه لري، ځکه د نوموړي په خبره، یاد هېواد چې د افغانستان په سوله کې څومره ګټه کولای شي، په جګړه کې یې نه شي کولای.

هغه ویلي: «پاکستان دا اوس له ډېرو بدو سیاسي او اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی. که نړیواله ټولنه په دغه هېواد خپلو فشارونو ته همداسې دوام ورکړي، نو زه په ډاډ سره ویلی شم چې پاکستان ډېر معامله ګر هېواد دی، په خپل دریځ کې به بدلون راولي، خو دا هم باید په یاد ولرو چې د سولې راتګ هم د یوې او دوه ورځو خبره نه ده، وخت به نیسي او موږ به خپله هیله له لاسه نه ورکوو».

### تر خبرداریو او نانډریو وروسته؛

# یو ځل بیا د طالبانو او امریکا ترمنځ په دوحه کې خبرې روانې دي



وروسته له دې چې طالبانو د سولې خبرو د ځنډولو په اړه امریکا ته خبرداری ورکړ، د سولې په برخه د دغه هېواد استازي سیمې ته خپل سفرونه زیات کړل. له پرله پسې هڅو وروسته زلمی خلیلزاد په دې بریالی شو، چې له طالبانو سره د سولې په تپه دربدلې خبرې بیا پیل کړي. د افغان سولې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له پاکستاني چارواکو سره تر لیدنې وروسته قطر ته سفر وکړ. هغه په دوحه کې د طالبانو له استازو سره ولیدل. رسنیو د خپلو سرچینو په حواله راپور ورکړی چې دواړو لورو په دغه لیدنه کې د سولې د راتګ او روانې جګړې د دربدو په اړه بحثونه کړي دي.

تېره ورځ ناوخته وسله والو طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دغه خبرو پخلی کړی دی. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي چې له امریکایي استازي زلمي خلیلزاد سره په دوحه کې د طالبانو د استازو خبرې پیل شوې دي او نن به هم دوام ولري. وسله والو طالبانو د دغه غونډې او خبرو نور جزیات نه دي خپاره کړي؛ خو وایي، وروسته له هغه یې له امریکایي استازو سره خبرو ته زړه ښه کړی چې امریکا له افغانستان د خپلو ځواکونو ایستل د خبرو په اجنډا کې شامل کړل. د اعلامیې په یوه برخه کې راغي: «امریکایي اړخ دا ومنله چې په افغانستان کې به د خپل نظامي حضور د پای ته رسولو او د سیمې هېوادونو ته له افغانستانه د ضرر نه رسولو مسئله په اجنډا کې شاملوي، نو له همدې امله موږ د مذاکراتو مېز ته حاضر شوي یو».

وسله والو طالبانو تر دې وړاندې له امریکا سره د خبرو د ځنډولو ګواښ کړی و. دغه ډلې ویلي وو، امریکا هڅه کوي چې د سعودي عربستان او پاکستان له لارې پر طالبانو فشارونه راولي او دغه ډله دې ته اړ کړي چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضره شي. وسله والو طالبانو همدا راز ویلي وو چې امریکا له طالبانو سره د خبرو اصلي اجنډا بدله کړې ده، نو که د امریکا دغه ډول کړنې ادامه پیدا کړي، دوی به د سولې خبرې ځنډوي. خو اوس داسې ښکاري چې امریکا له طالبانو سره پر ټاکلې اجنډا خبرې روانې کړي دي.

زلمي خلیلزاد له طالبانو سره تر لیدنې مخکې له پاکستاني، هندي او چینایي چارواکو سره هم لیدنې کتنې کړې دي. خلیلزاد وړمه ورځ له پاکستانه د وتلو پر مهال په یوه ټوېټ کې ویلي چې له پاکستاني چارواکو سره یې خبرې ګټورې وې او دوی ژمنه کړې چې د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره به هڅې کوي. له زلمي خلیلزاد سره هممهاله دوو مهمو امریکایي چارواکو هم پاکستان ته سفر کړی و.

تېره ورځ مخکښ او مشهور امریکایي سناتور لینډسي ګراهام او همدا راز لوړپوړي امریکایي جنرال جنرال جوزف ووټل اسلام اباد او راولپنډۍ ته هم سفرونه کړي وو. ووټل ویلي چې پاکستاني چارواکو د سولې په برخه کې د همکارۍ ژمنه ورسره کړې ده. د ده په خبره، په افغانستان کې ثبات او سوله راوستل د امریکا ستره موخه ده، نو پاکستان ته یې هم ویلي چې په دې برخه کې همکاري وکړي. لینډسي ګراهام بیا ویلي چې د افغانستان ثبات د ټولې سیمې لپاره مهم دی، نو له همدې امله به د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ څخه وغواړي چې د افغان جګړې د پای ته رسېدو لپاره د پاکستان او افغانستان له ولسمشرانو سره وګوري. د ده په خبره، دوی باید د جګړې د پای ته رسولو لپاره خپلې ګډې طرحې سره شریکې کړي او په دې توګه په افغانستان کې روانه جګړه پای ته ورسوي.

د طالبانو او امریکا تر منځ د روانو خبرو په اړه افغان حکومت تر دې دمه څه نه دي ویلي، خو د چارو شنونکي دغه اقدام پر ځای بولي او هیله لري چې د امریکا او طالبانو خبرې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ مذاکراتو زمینه برابره کړي.

# خلیلزاد: د سولې هڅې پر سم لوري روانې دي او ښې پایلې به ولري



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، د سولې روانې هڅې پر سم لور روانې دي او زیاتوي چې د سیمې په دغه سفر کې تر ډېره د پاکستان له لوري اقدامات داسې دي چې کولای شي ښې پایلې ولري.

خلیلزاد پر خپله ټوېټرپاڼه په یوه پیغام کې لیکلي چې سیمې ته خپل اوسنی سفر یې بشپړ کړی او ښې لیدنې یې درلودې.

نوموړي ویلي، د افغان سولې لپاره روانې هڅې پر سم لور روانې دي او زیاتوي چې تر ډېره د پاکستان له لوري اقدامات داسې دي چې کولای شي ښې پایلې ولري.

دا په داسې حال کې ده چې خلیلزاد د جنورۍ له اتمې څخه سیمې ته خپل دربیم سفر پیل کړی و چې په ترڅ کې یې عربي متحده اماراتو، هند، چین، افغانستان او پاکستان ته ولاړ.

په همدې حال کې د امریکا متحده ایالتونو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ یوه بانفوذه جمهوري غوښتونکي سناتور، لینډسي ګراهام په اسلام‌اباد کې له پاکستاني مشرانو سره تر لیدنې وروسته ویلي، چې د امریکا له ولسمشر څخه به وغواړي، څو د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره هر څومره ژر چې امکان ولري، وګوري.

نوموړي ویلي: «زه به هغه (ولسمشر ډونالډ ټرمپ) وهڅوم چې له صدراعظم عمران خان سره هر څومره ژر چې کېږي، عملاً وګوري. فکر کوم سره جوړ راځي. پر صدراعظم خان په څو لسیزو کې په تېرو لسو شلو کلونو کې له طالبانو سره د پخلاینې پر سر د هغه د خبرو په خاطر انتقاد کېده. هغه سم و. یو څه چې زه یې وایم دا دي چې جګړه په افغانستان کې د پخلاینې له لارې ختمېږي.»

بلخوا د اجرایه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو سره په خبرو کې عمران خان هغه کس بللی چې د افغانستان د قضایاوو په اړه یې ښه نیت ښودلی او د سولې هڅو په برخه کې یې د همکارۍ ژمنه کړې ده.

نوموړي دغه راز د لینډسي ګراهام د څرګندونو هرکلی هم کړی او ویلي یې دي: «موږ په دې برخه کې د امریکایي سناتور د هڅو هرکلی کوو او تمه مو دا ده چې ټول امریکایي چارواکي که د کانګرېس غړي دي، که پوځي او یا سیاسي چارواکي دي او همدارنګه د افغانستان نور ستراتېژیک ملګري چې کولای شي پر پاکستان فشار راوړي چې دغه هېواد عملي اقدامات وکړي، هرکلی کوو او تمه لرو چې دا فشارونه نور هم ډېر شي».

# ذکي: د تېرو کلونو په پرتله مو سږکال د وزګارتیا کچه راټیټه کړې ده

په داسې حال کې چې په هېواد کې د وزګارو ځوانانو شمېر ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دی، خو د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویلي، د تېرو کلونو په پرتله یې سږ کال د وزګارتیا کچه راټیټه کړې ده.

دغه وزارت ویلي، متحده عربي اماراتو ته په قانوني ډول د افغان کارګرو لېږل، د خصوصي سکټور د پیاوړتیا لپاره د کاري زمینې برابرول، حرفوي او فني زده کړې، د کاري زمینو د برابرولو په برخه کې د دغه وزارت مهم اقدامات دي.

د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض‌الله ذکي تېره ورځ د مالي کال د لاسته راوړنو د وړاندې کولو پر مهال ویلي چې دغه وزارت د کورنیو او بهرنیو ادارو په همکارۍ توانېدلی، څو په روان کال کې کاري فرصتونه زیات کړي.

نوموړي زیاته کړې: «د کاري زمینو د برابرولو لپاره بودجه په ښه توګه ترتیب شوې ده، یعنې هره هغه پروژه چې بودجه نه شي لګولی، نورو پروژو ته ورکول کېږي. په همدې اساس سږ کال د کار موندنې فرصتونه ډېر شوي او د کار ملي پالیسۍ او د کارګرانو د لېږلو ملي ستراتېژۍ جوړې شوې او په ماشومانو د کار د منعې ستراتېژي هم وروستۍ شوې ده، یعنې د کارګرانو د حقوقي شرایطو د ښه والي لپاره مهم کارونه شوي دي.»

نوموړي دغه راز ویلي، په روان کال کې د فني او حرفوي زده کړو د ملي اداري په جوړولو سره، په ۳۴ ولایتونو کې له ۲۵ زرو زیات کسان د حرفوي زده کړو په برخه کې روزل شوي دي.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت په داسې حال کې د کاري زمینو د برابرولو خبره کوي چې اوسمهال په ټول هېواد کې د کار پر شرایطو برابر ۱،۹ میلیونه کسان له بېکارۍ ځورېږي.

په ورته وخت کې د کارګرانو ټولنې رییس معروف قادري که څه هم د دغه وزارت له اقداماتو هرکلی کړی، خو ویلي یې دي چې د بېکارۍ د کچې د راټیټولو لپاره باید لا نور اقدامات وشي.



نوموړي ویلي: «تاسې په دې پوهېږئ چې د وزګارو کسانو شمېره زیاته ده او په دې کې لوستي ځوانان هم ډېر دي، خو هغه څه چې موږ هیله لرو، تر اوسه پورې ترسره شوي نه دي. زموږ غوښتنه دا ده چې په کلني ډول یو تر یو نیم میلیونه پورې کاري فرصتونه برابر شي، څو په راتلونکو کلونو کې د کمو وزګارو کسانو شاهدان واوسو.»

### د اسرائیلو او ایران د کړکېچ په دوام؛

# اسرائیلو یو ځل بیا په سوریه کې پر ایراني اهدافو بریدونه کړي دي

اسرائیلو په سوریه کې د ایران د سپاه پاسداران پر قدس څانګه بریدونه کړي دي. قدس د سپاه هغه څانګه ده چې له ایرانه بهر عملیات کوي.

د اسرائیلو پوځ د یوه بیان په خپرولو سره ویلي، د جولان پر لوړو د سوریې له لوري د یوه توغندي تر توغولو وروسته یې دا بریدونه کړي دي.

اسرائیلو دغه راز سوریې ته هم خبرداری ورکړی چې د اسرائیل خاورې یا ځواکونو ته له زیان اړوونکو هڅو دې ډډه وکړي.

اسرائیلي ځواکونو په دغو بریدونو کې د اوښتو تلفاتو په اړه څه نه دي ویلي او نه هم ایران په دې تړاو تراوسه کوم غبرګون ښودلی.

خو د رویټرز خبري اژانس د رپوټ له مخې، د سوریې دولتي رسنیو ته د دغه هېواد خبري سرچینو ویلي چې اسرائیلو په لاربښود توغندیو سره پراخ بریدونه وکړل، چې ډېری توغندي یې د سوریې د هوایي دفاع له لوري شنډ شوي دي.

په برېټانیا کې د سوریې د بشري حقونو د څار مېشتې ډلې هم ویلي چې اسرائیلي توغندیو د دمشق شاوخوا سیمې په نښه کړې دي.

بلخوا د اسرائیلو لومړي وزیر بن یمین نتن یاهو وړمه ورځ ویلي، که دی په هېواد کې وي یا نه، د ایران پر ضد سیاست به یې دوام لري.

نوموړي چاد ته په خپل لومړي سفر کې ویلي چې په سوریه کې د ایران د پوځي حضور د تثبیت پر ضد هڅې یې دایمي دي.

نوموړي په دې اړه زیاته کړې: «دا سیاست نه بدلېږي، که زه اسرائیل کې یم یا چاد ته په تاریخي سفر وتلی یم، دا تلپاتې سیاست دی».

دا په داسې حال کې ده چې د اسرائیل پوځ لوی درستیز ګاډي ایزنکوټ هم په دې وروستیو کې په سوریه کې له ایران او په هغه پورې تړلو ډلو سره د مقابلې په هکله نیویارک ټایمز ته ویلي، چې دوی په دې وروستیو کې په سوریه کې پر ایراني اهدافو بریدونو ته زور ورکړی دی.

له سوریې د امریکایي ځواکونو د وتلو په هکله د ډونالډ ټرمپ تر پرېکړې وروسته، د اسرائیلو لومړي وزیر په سوریه کې له ایران سره د مقابلې لپاره پر خپل هوډ لا ډېر ټینګار وکړ.

خو د نوموړي په غبرګون کې د سپاه پاسداران قوماندان تورن جنرال محمدعلي جعفري ویلي: «ټول هغه پوځي او انقلابي سلاکاران او وسلې او تجهیزات چې د سوریې د مظلوم ولسمشر د ملاتړ او د اسلامي مقاومت د مبارزاتو د ورتیا زیاتولو لپاره سوریه کې دي، هملته ساتو».

خو د اسرائیلو لومړي وزیر ایران ته په وینا کې ویلي، سپارښتنه کوم چې له سوریې ژر خپل ځواکونه وباسئ؛ ځکه موږ د بریدونو د سیاست ژمنه کړې او پرې درېږو.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میراحمد یاد

**درېیم څپرکی**
**پر ځان باور وکړئ**
**او وېره ووژنئ**




پال ته مې دا هم وویل چې زیاتره مجرمان ځان پسې د ثبتونو پرېښودو له امله نه نیول کېږي، بلکې د دوی د ګناه او ملامتی احساس ورپسې پولیس راولي.
په موږ هر یوه کې د سم اوسېدو او سم فکر او عمل کولو لېوالتیا شته. له دې طبیعي جوړښت سره مبارزه داسې ده، لکه انسان چې په خپل وجدان کې سرطاني دانه کري. دا دانه زموږ وجدان خوري او وده کوي. له داسې کارونو ځان ساته چې بیا پوښتې (وخو به نه نیول شم؟ هغه به خبر وي که نه؟ راباندې پوه نه شي؟...
که اولنومرګي د وجدان د نارامولي په بیه وي، نو مه یې اخله.)
له ښه مرغه پاول په خبره او د سمون په ارزښت پوه شو. بیا مې ورته وویل چې بیاځلي ازموینه ورکړه. له ما یې پوښتنه وکړه چې له پوهنتونه ویستل به مې څنګه شي؟ ما ورته وویل: (که موږ په نقل ګیر شوي ټول محصلین له پوهنتونه باسو، نو نیم استادان هم باید وباسو او که غواړو ټول هغه محصلین وباسو چې په نقل یې فکر کړی، نو پوهنتون باید وتړو، نو ته داسې وکړه چې دا موضوع بیخي هېره کړه.)
هغه وویل: (په سترګو استاده.)
زه خپلې الماری ته لاړم یو کتاب مې را واخیست، د کتاب عنوان و: (پنځوس کاله له زرین منشور سره) دا کتاب مې پاول ته ورکړ او ورته ومې ویل: دا کتاب ولوله او بیا یې بېرته ماته وسپاره. په دې کتاب کې به درته جې. سي. پني ووایي چې څنګه یوازې د رښتینولۍ په برکت د امریکا شتمن سړی شوی دی.
په سمو کارونو د انسان وجدان ارامېږي او پر ځان باور پکې پیدا کېږي. بد کار چې کوو، نو دوه پېښې کېږي: یوه دا چې د ګناه احساس کوو او دا مو پر ځان باور ختموي او بله دا چې خلک زر یا لږ وروسته زموږ پر ناسم کار پوهېږي او پر موږ یې باور ختمېږي.
رښتیني اوسئ او پر ځان باور وساتئ. د ځان د بریا فکر درسره دې برخه کې مرسته کولای شي. نو که غواړئ چې پر ځان قوي باور ولرئ، روغ او رښتیني اوسئ.
ارواپوهان په دې باور دي چې موږ د خپل چلند په بدلولو خپل لیدلوری بدلولای شو. مثلاً که ځان خندېدو ته اړباسئ، د خنداحالت خپلوئ. یا که نېغ ودرېږئ او په لاره قوي روان شئ، نو د قوت احساس کوئ. اوس تندی تریو کړئ، وګورئ چې رښتیا هم درته د غوسې او خپګان حالت پیدا کېږي؟
دا په اسانه ثابتېږي چې کنټرول شوې انګېزې، هیجانات بدلولای شي. څوک چې د ځان پېژندلو پر وخت د نارامی احساس کوي، د دې دریو کارونو په کولو سره کولای شي چې پر ځان باوري شي او نارامي ختمه کړي:

۱) د مقابل لوري لاس ونیسئ او زور ورکړئ.
۲) مقابل لوري ته مخامخ نېغ په نېغه وګورئ.
۳) مقابل لوري ته ووایئ چې: (ستاسې په لیدو خوښ شوم.)

دا درې کارونه پخپله ستاسې نارامي او بې باوري له منځه وړي. ډاډمن عمل ډاډمنه روحیه رامنځته کوي. نو که غواړئ چې پر ځان باوري فکر وکړئ، باید پر ځان باوري عمل وکړئ. تاسې چې څنګه احساس کوئ، د هماغه په اساس به عمل هم کوئ. لاندې درې ډاډمنونکي تمرینونه راوړل شوي دي، دا لارښوونې په دقت ولولئ، جدي هڅه وکړئ چې تمرین یې کړئ او پر ځان باور زیات کړئ.
الف. تل په لومړیو لیکو کې کېنئ. تراوسه مو لیدلي چې په (ناستو، ټولګیو، غونډو ...) کې څنګه لومړی وروستی څوکۍ ډکېږي. خلک عموماً د وروستیو څوکیو ته د دې لپاره زور کوي چې ډېر ښکاره نه شي، زیاتره خلک پر ځان باور نه لري، په دې خاطر له ښکارېدو هم ځان ساتي.
په لومړیو لیکو کې کېناستل مو پر ځان باور زیاتوي، دا تمرین وکړئ. له نن نه هڅه پیل کړئ چې نور به په لومړۍ لیکه کې کېنئ، په لومړۍ لیکه کې به د خلکو سترګو ته راځئ، خو یاد ساتئ چې سترګو ته راتګ د مشهورتیا او ځانګړتیا په مانا وي.
ب. د نورو خلکو سترګو ته ګورئ. خلک تر ډېره موږ ته ځان د خپلو سترګو په مرسته راپېژني. څوک چې ستاسې سترګو ته نه ګوري، ستاسې په ذهن کې خپله ځینې پوښتنې راولاړېږي، مثلاً (څه پټوي؟، له څه وېرېږي؟، څه پلان لري؟ ...)
عموماً چې څوک د چا سترګو ته نه شي کتلای، دا دوه ډوله برداشت زېږوي: یا دا چې ستاسې پر وړاندې ځان ټیټ بولي، ځان کمزوری ګڼي او له تاسې وېرېږي. یا دا چې وایي داسې یو کار یا خبره یې کړې چې نه غواړي تاسې پرې پوه شئ، هسې نه چې سترګې یې له تاسې سره مخ شي، تاسې به یې له سترګو پوه شئ چې دا کار ده کړی دی.)
د نورو خلکو له سترګو چې سترګې ګرځوئ، نو د ځان په اړه ښه تاثر نه پرېږدئ، دا په دې مانا ده چې تاسې وایئ: (زه وېرېږم، پر ځان باور نه لرم.) که دا وېره ختمول غواړئ، نو ځان مجبور کړئ چې د نورو خلکو سترګو ته وګورئ او دا وېره ووژنئ.
تاسې چې د خلکو سترګو ته ګورئ، هغوی ته وایئ: (زه پاک او رښتینی انسان یم، څه چې وایم باور پرې لرم، وېرېږم نه او پر ځان باور لرم.)
په سترګو مو ځان ته خدمت وکړئ، د نورو سترګو ته یې مخامخ کړئ، دا کار مو نه یوازې پر ځان باور زیاتوي، بلکې تاسې پر خپل ځان برلاسي او واکمنوي.

**دوام لري...**

# فطرت ناشناس

حکمت ارین



استاد ډاکټر صادق فطرت ناشناس په تېرو پنځوسو کلونو کې په پښتو، دري او اردو ژبو کې په سلګونو کلاسیکي، فولکلوري او عصري سندرې ویلې دي چې افغاني موسیقۍ ته یې ډېرې ښکلا ور ښښلې ده. په دغه ډګر کې د هغه کړنې او لاسته راوړنې د هېچا له سترګو پټې نه دي. هغه د پښتو موسیقۍ او ادب لپاره د پام وړ کار کړی دی او خپل نوم یې د دغه ډګر د پیاوړو سندرغاړو په سر کې ځای کړی دی.
استاد ناشناس یوازې په لر او بر افغان وطن کې نه، بلکې په هند او نورو هغو هېوادونو کې هم خورا ډېر شهرت لري چې پر پښتو، فارسي او اردو ژبو خبرې کوي. نوموړي پر پښتو او دري ژبو سربېره په اردو ژبه هم ډېرې سندرې ویلې دي چې په پاکستان او هند کې یې د موسیقۍ محفلونه ګرم ساتلي دي.
د هغه غږ چې چا هم یو ځلې اورېدلی دی، نو په زړه کې یې ځای نیولی او د هغه له خواږه غږ نه اغېزمن شوی دی.
هغه د خپل ژوند، کارونو او زیارونو بشپړه یادونه په «نیم قرن باترانه های ناشناس» کتاب کې کړې ده. ډاکټر محمدصادق فطرت ناشناس د ګوتو په شمېر له نومیالیو پخوانیو افغان غزلبولو څخه دی او لومړنی هنرمند او غږپوهاند دی چې لوړې زده کړې یې په پښتو ادبیاتو کې تر دوکتورا کچې پورې کړې دي. د ده د نوښتګرۍ له کبله په هند او پاکستان کې د افغان سیګل لقب ورکړل شوی دی او په افغانستان او سیمه کې د خلکو تر منځ د ناشناس په نامه یادېږي . دی نه یوازې چې سندارا پوهنې کې یو مسلکي غزلبول دی، بلکې له ۱۹۵٦ زېږدیز کال راپه دېخوا یې د پښتو، دري او اردو ژبو ادبیاتو کې بې شمېره غږیزې پنځونې هم کړې دي.
ناشناس په کندهار کې په یوې روڼ اندې نوموتې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي او پلار یې محمدرفیق حبیبي نومېږي. هغه د خپل ژوند لویه برخه د افغانستان په پلازمېنه کابل کې تېره کړې ده. نوموړی په ختې کاکړ پښتون دی. له ډېرو کلونو راپه دېخوا د پښتو او دري سندرو ترڅنګ په اردو ژبه هم سندرې وایي. ډاکټر ناشناس اوسمهال د انګلستان په لندن ښار کې مېشت دی. نوموړی په یوه روحاني کورنۍ کې زېږېدلی دی، خو څنګه یې چې قسمت غوښتل، د دیني زده کړو د ترلاسه کولو سره سره یې د هنر او موسیقۍ سره هم ډېره علاقه پیدا کړه او له خپلې کورنۍ نه په پټه د خپل شوق او علاقې په ډګر کې ښکېل شو چې اوس یې د افغانستان د وتلې او زیاتو مینوالو لرونکي سندرغاړي نوم خپل کړی دی.
هغه د دوکتورا تر کچې زده کړې کړې دي، خو دا چې زده کړې یې چېرته، څنګه او په کومه برخه کې کړې دي، دلته پرې خبرې کوو:
ډاکټر ناشناس خپلې زده کړې په هند کې له جامعیه ملیه اسلامیه څخه په ډیلي کې پیل کړې، د همدغه ښوونځي بنسټګر او د هند درېیم ولسمشر ذاکر حسین د ښاغلي صادق فطرت استاد هم و، وروسته یې د هند په پونه ښار کې یو کال زده کړې وکړې، بیا بېرته چمن او بلوچستان کې خپلې پلرنۍ سیمې ژوب ته راغی او هلته یې نورې زده کړې وکړې. نوموړي دوولسم ټولګی په کابل کې ویلی، بیا یې په کابل پوهنتون کې د حقوقو او اقتصاد له پوهنځیو بري لیکونه ترلاسه کړل. په ۱۹۷۰ زېږدیز کال کې د زده کړو لپاره روسیې ته ولاړ او هلته یې د مسکو په دولتي پوهنتون کې د پښتو او روسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې لومړی ماسټري او بیا یې دوکتورا ترلاسه کړه. له دې سره په څنګ کې یې په لندن کې د غږپوهنې په برخه کې هم زده کړې وکړې .
نوموړي د افغانستان له ملي راډیو څخه پیل تر ټلوېزیونه او بیا د کلتور وزارت له خوا د کمپوز او ښه شعر غوراوي او غږ ازموینې څارونکي په صفت دندې ترسره کړې دي. همدارنګه د بیهقي چاپي ټولنې مدیر هم پاتې شوی دی .
د پښتو ژبې سندرغاړي استاد ناشناس یوازې یو سندرغاړی نه، بلکې یو مکتب بولي او د افغانانو په زړونو کې د موسیقۍ د یو پاچا په توګه ځای لري او د نوموړي کارونه د پښتو موسیقۍ، کلتور او ادب په برخه کې ګټور یادوي او هڅو ته یې د قدر په سترګه ګوري.
هغه اوس په اروپا کې اوسي، خو وایي، د وطن نه لرېوالی یې ځوروي. نوموړي د یوې مرکې پر مهال ویلي، د وطن نور څه خو په هر صورت، خو ان په اسمان پسې یې هم خپه شوی دی.
ناشناس د خپلې بریا راز د ښه شعر او ښې موسیقۍ انتخاب بللی دی.
هغه وایي، اوس مې پر یو کتاب کار پیل کړی دی چې ډېر ژر به چاپ شي، نوموړي په دغه کتاب کې خپلې ټولې کړنې او ویل شوې سندرې راټولې کړې دي.
ناشناس د افغانستان د ګوتو په شمېر سندرغاړو او غزلبولانو څخه دی چې کورني او بهرني مډالونه او ستاینلیکونه یې تر لاسه کړي دي.
نوموړي نیمه پېړۍ سندرې ویلې دي، خو لا هم ځان استاد نه بولي. دی وایي، ځان استاد نه، بلکې اوس هم د موسیقۍ زده کوونکی راته ښکاري. هغه وایي چې کله هم ورته څوک استاد ووایي، نو په خپل هنر کې ورته خپلې خامیانې یادې شي.
ناشناس چې د هنر په ډګر کې یې له لومړیو ۲۵ کلونو وروسته، د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره په هنري فعالیتونو کې دمه کړې وه، خو کله چې بېرته د سندرې د ثبتولو په موخه د پاکستان لاهور ښار ته لاړ، نو یو استاد یې ورته وویل چې هارمونیم یا باجه دې ټیون نه ده، یعنې د باجې سرونه برابر نه دي.
د ناشناس د خپل ځان په اړه نظر د ده خپل دی، خو په افغانستان، پاکستان او د نړۍ په ځینو هېوادونو کې هغه ته د موسیقۍ پوهان استاد وایي او د موسیقۍ ځانګړی مکتب یې ګڼي.
فطرت ناشناس د خپل ۵۰ کلن هنري ژوند کیسه په خپل نوي کتاب «نیم قرن با ترانه های ناشناس» کې کړې ده. هغه د دغه کتاب په اړه وایي: «دغه کتاب مې په دري ژبه لیکلی دی او نورو ژبو لکه، پښتو او انګلیسي ته به ډېر ژر وژباړل شي. دا چې په پښتو مې ولې ونه لیک، ځکه زیاتې سندرې مې په دري ژبه کې ویلې دي، نو ځکه مې کتاب هم اول په درۍ کې چاپ کړ.»
ناشناس چې په اردو، هندي، فارسي، روسي او انګلیسي ژبو یې ډېرې سندرې ویلې دي، وایي چې د نورو ژبو په پرتله یې پر پښتو ژبه کمې سندرې ویلې دي چې هغه یې دلیل د پښتو ژبې مورنۍ والی یادوي او وایي چې په دې ژبه کې معیاري کار کول مې زړه غواړي.
ناشناس وایي، خپلې ټولې سندرې ورته لکه د خپلو اولادونو هومره ګرانې دي او هره سندره یې په څه نا څه موضوع ویلې ده. نوموړی په اروپا کې ژوند کوي او له خپل وطن نه لرېوالی یې تل ځوروي او کله یې چې وطن ډېر ویادېږي، نو ځان سره یوازې کېني او د وطن په اړه خپلې ځینې سندرې زمزمه کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ځنگه د اولادونو ترمنځ تبعیض له منځه یوسو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

تر هرڅا ډېر اولادونه مور او پلار ته گران وي، تاسې هم دا خبره منئ. دا احساس هېڅ وخت مه کوئ چې مور او پلار مو ستاسې بل ورور یا خور ته تر تاسې ډېر ناز ورکوي یا د تاسې په پرتله هغه ورته ډېر گران دي.

خو که داسې احساس کوئ چې له تاسې سره دا ډول چلند کېږي، وېرېږئ مه. ستاسې په شان ډېر نور هم دا فکر کوي چې په کورنۍ کې ورسره ورته چلند کېږي.

د کورن پوهنتون څېړونکو په دې اړه په زړه پورې څېړنه کړېده، هغوی له ۲۷۵ میندو سره چې دوه یا تر دوو زیات اولادونه یې لرل او د ٦۰ - ۷۰ کلونو په شاوخوا کې یې عمرونه وو، خبرې کړې دي او له ٦۷۱ د همداسې میندو له اولادونو یې هم ورته پوښتنې کړې دي.

په سلو کې اویا دغو میندو د هغو اولادونو چې دوی ته ډېر گران وو، نمونه اخیستې دي. بل پلو هغو اولادونو یوازې په سلو کې پنځلسو دا منلې چې د هغوی مور او پلار د دوی (خور او ورور) ترمنځ د مساواتو برابروالی رعایت کړی دی.

کله چې مور او پلار خپل یو زوی/لور ته د نورو په پرتله ډېره توجه کوي، څېړنو ښودلې چې دا وخت یې دواړه اولادونه هغه چې دوی ورته توجه کوي او هم هغه چې دوی ورته توجه نه کوي، پر رواني ناروغۍ اخته کېږي. له یوې خوا هغه زوی/لور چې کمه توجه ورته کېږي، د کمترۍ احساس کوي او هغه چې ډېره توجه ورته کېږي، د مور او پلار د ډېرې توجه له امله خودخوا کېږي چې دا بیا ورته ډېرې بدې پایلې زېږوي.

د یو چا کم دوست لرل ښه عادت نه دی، خو د انسان طبیعت فطرتاً داسې دی چې ځینې کسان یې د بېلابېلو عادتونو له مخې خوښېږي او له ځینو سره بیا کینه کوي یا له هغوی څخه لرې والی خوښوي.

کېدای شي خپله شاوخوا کې ډېر داسې کسان وپېژنئ چې د نورو اولادونو په پرتله له یو زوی/لور سره ډېرې صمیمي او نږدې وي.

د بېلگې په توگه، ستاسې ورور او پلار ورته فکر لري او په اسانۍ سره یو بل درک کولی شي، یا ځینې هغه کړنې چې د انسان په کنټرول کې نه دي، لکه، د نرۍ او خلکو په اړه ستاسې لید، ستاسې د مور او پلار په پرتله ستاسې له ورور او خور سره په څو څو واره لرې او مختلف دی چې له همدې وجې ستاسې مور او پلار ستاسې په پرتله هغوی ته نږدې پاتې کېږي.

دا ډول برخورد یا نظر لرل کېدای شي زموږ فطري طبیعت وي، خو که زموږ له مور او پلار نه دا ډول کړنه چې هغوی زموږ په پرتله نورو ته ډېره توجه کوي او یا هر وخت د هغوی نظر مني، ترسره شي؛ دا بیا ډېره بده ده. ځکه موږ له مور او پلار څخه دې ډېرې او بې کچې مینې غوښتنه کوو او دا د هر یو اولاد فطري غوښتنه ده.

په هر حال، د اولادونو ترمنځ تبعیض په هر صورت کولای شي یوه کورنۍ له جنجالونو سره مخ کړي. ایا ستاسې مور او پلار ستاسې له ورور او یا خور سره ستاسې په نسبت ډېره مینه کوي؟ ایا ستاسې د ورور یا خور پر بریاوو ستاسې په نسبت ډېر خوشحاله کېږي؟ ایا تل ستاسې په مقابل کې د هغوی پلوي کوي؟ ایا دا حس کوئ چې هغوی ستاسې ترمنځ د تبعیض د ایجاد سبب شوي، داسې چې له هغوی سره ښه چلند، مینه او مهرباني کوي او تاسې ته توجه نه کوي؟ ایا تاسې له دې ډول کړنو ځورېږئ؟ موږ په همدې مقاله کې درته هغه لارې چار در پېژنو چې پر مټ یې د یو بالغ او رون اندې کس په څېر د هغوی په مقابل کې داسې عمل وکړئ، څو دا هرڅه پرې له منځه یوسئ.

**۱ـ هره خبره ځان ته مه کش کوئ**

کېدای شي ستاسې د مور او پلار دا چلند په دې معنا نه وي چې هغوی ستاسې بل کوم ورور یا خور سره ستاسې په پرتله ډېره مینه لري، بلکې خبره دا ده چې هغوی په هر دلیل چې له هغوی سره ډېره مینه کوي یا د هغوی په خوا کې ځان راحت گڼي، دا د هغه زوی/لور په فردي ځانگړنو پورې اړه لري.

کېدای شي تاسې اصلاً په دې ځای پوه نه وئ یا مو هېڅ ورته پام نه وي. کېدای شي هغوی هېڅ دا احساس و نه کړي چې تاسې د نورو اولادونو په وړاندې مات او کم راولي او یا قصداً له تاسې سره دا عمل وکړي. خو که قصداً دا کار کوي، کېدای شي یوازینی علت یې هغوی ته ستاسې کم ارزښت او یا هم کمه توجه وي.

**۲- په بل ځای کې مو د ځان لپاره د ژوند کولو زمینه برابره کړئ**

د داسې کسانو په لټه کې شئ چې د هغوی په واسطه یا له هغوی نه په تقلید، مینه، زړه سوی او د یو بل منل چې په کورنۍ کې مو نه دي ترلاسه کړي، ترلاسه کړئ. خو پام مو وي چې یوازې له ښو کسانو څخه دا عادت خپل کړئ، ځکه د هڅونې او ښه سلوک یا چلند تمه له هر چا نه شي کېدای.

موږ ډېر په داسې کورنیو کې ژوند کوو چې د کورنۍ له ډېرو غړو سره مو فکر او نظر یو شان نه دی، هغوی پر یو څه او موږ پر بل څه باور لرو. خو ښه خبره دا ده چې په دنیا کې ډېر داسې کسان شته چې ستاسې دا نمیگړتیا(د کورنۍ له غړو سره نه جوړجاړی) ډکه کړي.

بیا هم ټینگار کوو چې د داسې کسانو په انتخاب کې ډېر غور وکړئ، ځکه له هر چا دا تمه نه شي کېدای.

**۳- په داسې وخت کې مو له همغه ورور یا خور سره اړیکه مه خرابوئ**

له ورور او خور سره مو سیالي مه کوئ، دا چې هغوی ته د مور او پلار لهخوا ډېر ارزښت ورکول کېږي، هغوی له دې وجې مه ځوروئ. که دا هرڅه ستاسې په حق کې رښتیا هم وي، بیا هم له هغوی سره ښه چلند وکړئ. دا چې تاسې د خپلې کورنۍ د غړو په زړونو کې ځای نه لرئ، خپل زړه مه ماتوئ، کولای شئ د هغوی زړونو ته لار پیداکړئ، فقط له هغوی سره مینه وکړئ او له ځان غوښتنې تېر شئ. په مقابل کې یې دا ومنئ چې له مور او پلار سره ستاسې رابطه، خپله په تاسې پورې اړه لري، نه په هغوی پورې.

**۴- هرڅه چې واقعیت لري، هغه ومنئ**

که مو ومنله چې نه شی کولای له مور او پلار سره هغسې چې ستاسې زړه غواړي اړیکه ټینگه کړئ، له دې څخه د ښه حال لرلو چانس لرئ. کولای شئ خپل فردي فکر چې هم ځان او هم هغوی ته په درناوي قایل شي، پیاوړی کړئ. دا ډول کړنه اسانه نه ده، خو که یې سرته ورسوئ، کېدای شي وضعیت مو ورسره ډېر بدلون وکړي.

اول تر هرڅه مخکې په دې اړه فکر وکړئ چې کورنۍ مو ستاسې په اړه کومې قربانۍ ته تیاره ده او وروسته د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې تاسې ته د کورنۍ لخوا په واک کې درکړل شوي دي. که دا هرڅه درک کړای شئ، بې له شکه چې د خپلې کورنۍ د غړو نوک به هم په ټوله دنیا ور نه کړئ.

**۵- د خپل کورني ژوند لپاره مو وخت او انرژي مصرف کړئ**

که په داسې کورنۍ کې دنیا ته راغلي یاست چې له تاسې سره یې پوره مینه او ستاسې یې سمه پالنه نه وي کړې او تل مو د وروڼو او خویندو په منځ کې د تبعیض احساس کړی وي، هڅه وکړئ چې له واده کولو وروسته دا ټولې کاستۍ او نیمگړتیاوې جبران کړئ. خپله ټوله هڅه وکړئ، څو هغسې چې مو زړه غواړي، د اولادونو پالنه وکړئ او ټول هغه څه چې تاسې ترې ځورېدلي یاست، تکرار نه کړئ.

## ټاکنو کمېسیون: د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو د اسنادو څېړل مو پیل کړل

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته د رسمي نوماندانو د اسنادو د څېړلو بهیر پیل شوی دی.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح سادات تېره ورځ ازادي راډیو ته ویلي چې په وروستي نوملړ کې د شاملېدو لپاره باید نوماندان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له فلتره تېر شي.

نوموړي ویلي: «د دغو نوماندانو اسناد څېړل کېږي او له هغه وروسته به په لومړني لېست کې شامل شي. د انتخاباتو خپلواک کمېسیون نافذه قوانینو ته ژمن دی او کوم شرایط چې قانون وضع کړي، عملي کوي یې.»

د قانون پر اساس، د ټاکنو خپلواک کمېسیون دوې اونۍ وخت لري، څو د دغو نوماندانو اسناد وڅېړي. د افغانستان تابعیت لرل، په جرمونو نه محکومېدل، د ۴۰ کلنۍ عمر او د یو لکو رایو ورکوونکو ملاتړ لرل، د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو لپاره مهم شرطونه دي.

د جمهوري ریاست د نوماندانو د نوملیکنې بهیر چې ۱۰ ورځې وخت ورته ټاکل شوی و، ورمه ورځ پای ته ورسېد.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په خبره، دوه نوماندان د قانوني عمر د نه پوره کولو او ځینو نورو شرایطو له امله ونه توانېدل چې ځانونه کاندید کړي.

د ولسمشر محمد اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله په گډون، دغو ټاکنو ته ۱۸ کسانو رسمي نوملیکنه کړې ده.

د ټاکنو د څار ځینې بنسټونه بیا له افغان حکومته غواړي چې تېرو تېروتنو ته په پام باید روانه پروسه ښه مدیریت کړي.

د شفافو ټاکنو د بنسټ یا فیفا مشر محمدنعیم ایوبزاده وویل: «کومو کسانو چې نوملیکنه کړې، اسناد یې باید په ښه توگه وڅېړل شي. همدارنگه کوم کسان چې جرمي سابقه لري او یا په کوم جرم محکوم شوي او له انتخاباتي معیارونو سره برابر نه دي، باید ډېر ژر عدلي او قضایي ادارو ته معرفي شي. موږ واقعاً له دې وضعیته اندېښمن یو، یوه اندېښنه مو له کمېسیونه او بله اندېښنه مو له انتخاباتي ټکټونو ده. که چېرې زموږ دغه اندېښنې په پام کې ونه نیول شي، افغانستان به له کړکېچن وضعیت سره مخ شي.»

ایوب زاده ویلي، په دغو نوماندانو کې داسې کسان هم شته چې شتون یې د اندېښنې وړ دی.

د ده په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دې ترڅنگ باید د داسې کسانو نومونه په نوملړ کې شامل نه کړي، باید یاد کسان د بشري حقونو د سرغړونې او په فساد کې د لاس لرلو په تور عدلي او قضایي ارگانونو ته ور وپېژني.

پاکستان ته د امریکایي چارواکو د سفرونو په لړ کې؛

## ووټل له پاکستاني چارواکو سره پر افغان سوله غږېدلی

د امریکا د متحده ایالتونو د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال جوزف ووټل د پاکستاني پوځ له لوی درستیز جنرال قمر جاوید باجوه سره د افغان سولې په اړه خبرې کړې دي.

ووټل داسې مهال پاکستان ته سفر کړی چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم د سولې پر لارو چارو د خبرو لپاره پاکستان ته سفر وکړ او د دغه هېواد له لومړي وزیر عمران خان، د پوځ له مشر او نورو چارواکو سره یې پر افغان سوله خبرې وکړې.

د پاکستاني پوځ مطبوعاتي څانگې په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي چې د امریکا د مرکزي قوماندانۍ قوماندان جوزف ووټل په مشرۍ پلاوي، د دغه هېواد د پوځ له لوی درستیز جنرال قمر جاوید باجوه سره په لیدنه کې پر دوو اړخیزو اړیکو او د سیمې پر امنیتي وضعیت سربېره، د افغانستان د سولې پر پروسه هم خبرې کړې دي.

د خبرپاڼې په خبره، جنرال باجوه جنرال جوزف ته یو ځل بیا ویلي: «د سیمې د امنیت لپاره په افغانستان کې سوله ضروري ده. پاکستان پر خنډونو سربېره د سیمې د امنیت لپاره په ټولو هڅو کې پراخه برخه اخیستې او دا لړۍ به جاري وساتي.»

له بلې خوا بیا د امریکا پر پوځي پلاوي سربېره د سناتور لینډسي گراهام په مشرۍ یوه سیاسي پلاوي هم پاکستان ته د خپل سفر پر مهال د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره پر دوو اړخیزو مسایلو، پر سیمه ییزو او نړیوالو حالاتو او د افغانستان پر وضعیت خبرې کړې دي.

د امریکا دغه سیاسي او پوځي پلاوي په داسې وخت کې پاکستان ته سفر کوي چې په دې وروستیو کې د افغان سولې پروسې په لړ کې د امریکا د متحده ایالتونو هڅې زیاتې شوې او د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم سیمې ته د خپل سفر په اوږدو کې د تېرې جمعې په ورځ پاکستان ته سفر وکړ.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې دویمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۲مه | دویم کال | ۳۲۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۸ | ۱۱ | ۷ | ۱۵ | ۱۲ |
| -۱۰ | -۳ | -۳ | -۳ | ۲ | -۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۴۵ | لمر ختل ۰۷:۱۱ | ماسپښین ۱۲:۲۲ | مازیگر ۰۳:۵۵ | ماښام ۰۵:۳۳ | ماخوستن ۰۶:۵۹

## نړۍ



د اسرائیلو او ایران د کړکېچ په دوام؛

# اسرائیلو یو ځل بیا په سوریه کې پر ایراني اهدافو بریدونه کړي دي

۳

## ترکي څارنوالان: متین توپوز باید پر عمري بند محکوم شي



ترکي څارنوالانو په استانبول کې د امریکا د کونسلگرۍ یو سیمه ییز کارکوونکی متین توپوز د ترکیې د حکومت د سقوط په موخه په جاسوسۍ مجرم گڼلی او د هغه د عمري بند غوښتنه یې کړې ده.

د متین توپوز پر وړاندې په ۷۸ پاڼو دوسیه کې چې د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس لاسته ورغلې، لیکل شوي چې توپوز په ۲۰۱۳ ز کال کې د پولیسو له ځینو افسرانو سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې چې هماغه کال د فساد ضد تحقیقاتو سبب شول. په دغو افسرانو کې چې د یاد فساد سبب شول لوړپوړي حکومتي چارواکي هم شامل وو.

د ترکیې حکومت فتح‌الله گولن په هغه څه چې انقره یې په ۲۰۱۳ ز کال کې عدلي کودتا بولي، تورن کړی او د گولن شبکه یې ترهگره وبلله. گولن دغه راز د ۲۰۱٦ ز کال د ناکامې کودتا په پلانولو هم تورن دی، خو دغه امریکا مېشت مذهبي مشر دا تورونه رد کړي دي.

د څارنوالانو د ادعا له مخې، متین توپوز چې په استانبول کې د امریکا په کونسلگرۍ کې د ژباړن او د نشه یي توکو په برخه کې کار کوي، چارواکو ته ویلي چې له څو پولیس افسرانو سره یې تماسونه نیولي، چې ویل کېږي له فتح‌الله گولن سره یې اړیکې درلودې.

څارنوالانو ویلي، د توپوز دا اعتراف د هغه د جرم څرگندویي کوي او هغه مهال له پولیسو سره د ده اړیکې د ده له کاري صلاحیتونو څخه پورته وې. ټاکل شوې چې د دې قضیې وروستۍ پرېکړه د محکمې یو قاضي وکړي.

د یادونې ده، په هغو شاوخوا ۳۰ کسانو کې چې د متین توپوز پر ضد یې دعوا کړې ده، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان او د ترکیې د کابینې څو پخواني وزیران هم شامل دي.

د ۲۰۱۷ ز کال په اکتوبر کې د توپوز په نیول کېدو سره د امریکا او ترکیې اړیکې ترینگلې شوې چې له امله یې دواړو هېوادونو یو بل ته د تگ راتگ لپاره د وگړو وېزې دې دوو میاشتو لپاره وځنډولې.

## په یونان کې وروستي لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي دي



د لسگونو زرو کسانو هغه لاریونونه چې په اتن کې د یونان پارلمان ته نږدې پیل شوي وو، پر تاوتریخوالي اوښتي دي.

دغه لاریونونه د یونان د حکومت د هغه توافق په غبرگون کې پیل شوي دي چې له خپل گاونډي مقدونیې سره یې د مقدونیې د نوم د بدلون په اړه کړی دی.

دغه لاریونونه هغه مهال پر تاوتریخوالي واوښتل، کله چې لاریونوالو پولیس په ډبرو وویشتل او پولیسو هم چې پارلمان ته یې د هغوی د ننوتلو مخه نیوله له اوښکې بهوونکي گازه څخه کار واخیست.

د راپورونو له مخې، په دغو لاریونونو کې نهه پولیس افسران ټپیان شوي دي.

د یونان د لومړي وزیر الیکس سیپراس حکومت د مقدونیې له لومړي وزیر زوران زایف سره د تېر کال په جون میاشت کې موافقه وکړه، چې د مقدونیې نوم پر شمالي مقدونیه بدل شي او اتن به په بدل کې په اروپایي اتحادیه کې د مقدونیې د شاملېدو له مخالفته لاس واخلي.

د دغو دوو هېوادونو د نوم پر سر دعوا له دې کبله ده چې د یونان یوه سیمه چې له مقدونیې سره پر پوله موقعیت لري، هم مقدونیه نومېږي.

په راتلونکي کې د احتمالي سرحدي سوء تفاهم د مخنیوي لپاره دواړو هېوادونو پرېکړه وکړه چې د مقدونیې نوم به پر شمالي مقدونیې بدل کړي.

## لیندسی گراهام: از ترمپ خواهم خواست از افغانستان دیدار کند



لیندسی گراهام، سناتور برجسته امریکایی می‌گوید که دونالد ترمپ، رئیس جمهور امریکا خواهد خواست تا از افغانستان و پاکستان دیدار کند.

او می‌افزاید که از ترمپ هم‌چنان خواهد خواست تا با عمران خان، نخست وزیر پاکستان نیز دیداری داشته باشد. این سناتور با نفوذ امریکایی، به این باور است که عمران خان می‌تواند در روند صلح افغانستان کمک‌های صادقانه انجام دهد.

او می‌افزاید: «هنگامی که طالبان درک کنند که جهان، افغانستان را دوباره به آنان نمی‌دهد، هنگامی که طالبان دریابند که پاکستان کمکی را که به آنان می‌کرد پس از این نمی‌کند؛ در آن هنگام ما در جایی خواهیم بود که نیاز است در آن‌جا باشیم».

در کنار زلمی خلیلزاد، جنرال جوزف ووتل فرمانده فرماندهی مرکزی ارتش امریکا و لیندسی گراهام، سناتور برجستۀ امریکایی، سه مقام امریکایی بوده‌اند که در سه هفتۀ پسین با مقام‌های پاکستانی دیدارهایی داشته اند و صلح افغانستان یکی از بحث‌های مهم میان آنان بوده است.

از زمان گماشته‌شدن زلمی خلیلزاد به عنوان نمایندۀ ویژۀ امریکا برای صلح افغانستان در ماه سنبلۀ امسال، او تاکنون سه بار با نماینده‌گان طالبان در شهر دوحۀ، قطر و ابوظبی امارات دیدار کرده‌است.

خلیلزاد، در خلال این مدت دوبار به کشورهای منطقه از جمله پاکستان، افغانستان، امارات، قطر و چین سفر کرد تا این کشورها را برای کمک به روند صلح افغانستان متقاعد کند. او اکنون در سومین دور سفر منطقه‌یی خود به سر می‌برد که تاکنون از چین، افغانستان و پاکستان دیدار کرده‌است.

خلیلزاد، سه روز پیش به پاکستان رفت و با عمران خان، نخست وزیر و مقام‌های دیگر این کشور دیدار و در بارۀ صلح افغانستان گفت‌وگو کرد، گفت‌وگویی که او از آن خوشبینی کرده‌است.


## ژونـــد

## ژمې او د تور چای گټې



په ژمي کې تور چای د ځان گرمولو لپاره خورا گټور دی چې د دې ترڅنگ نورې گټې هم لري. تور چای د انټي اکسیدانو تر ټولو ښه سرچینه ده چې د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي او نه پرېږدي چې سرطان مو په بدن کې ځای ونیسي. د وینې له لوړ فشار سره هم مقابله کوي. څېړونکي وایي، د تور چای ښېگڼې یوازې دا نه دي چې له سرطان څخه مو ژغوري، بلکې د شکرې ناروغۍ د کنټرول لپاره هم گټور تمامېږي. د شکرې ناروغۍ په اړه هرو مرو معلومات لرئ چې څه ډول ناروغي ده؛ په نړۍ کې نن سبا په میلیونونو کسان پر دې ناروغۍ اخته دي. شمېرې څرگندوي چې له اوبو وروسته په نړۍ کې د تور چای مینوال ډېر دي، له همدې کبله پرې څېړونکو ډېرې څېړنې کړې دي. په تور چای کې شته پولي سکاریډونه چې د نشایستې او سلولوز لرونکي دي، د شکرې ناروغۍ د کنټرول لپاره گټه لري. دغه ترکیبونه کولی شي چې په بدن کې له اړتیا زیاتو گلوکوزو د جذب مخه ونیسي، یوه څېړنه چې په ۲۰۰۸ ز کال کې شوې ده، ثابتوي چې تور چای په دوه ډوله د شکرې له ناروغۍ سره مقابله کوي. دوی وایي، په تور چای کې شته پولي فینولونه او انټي اکسیدان د سلولونو د تخریب مخه نیسي او هم کولی شي چې په بدن کې د انسولینو کړنې تنظیم کړي.

## غواړئ چې ښکلې او شفافه څېره ولرئ؟



**۱- د مخ وچولو چل زده کړئ:** هېڅکله د مخ وچولو پر وخت خپل مخ کلک مه موښئ. هغه روی پاک چې یوازې په تاسو پورې اړه لري، را واخلئ، یوازې څو ځله یې ډېر نرم پر مخ کېږدئ او بېرته یې ترې پورته کړئ.

**۲- د مخ په غوړولو کې ځنډ مه کوئ:** مخ یوازې له مینځلو وروسته په سم ډول مرطوب مواد جزبولای شي او بس. د دې لپاره چې د بدن پوست مو ښکلی او شفاف شي، نو له گرمۍ، یخنۍ او باد څخه ځان وژغورئ او همدارنگه پاکه او صافه وینه هم د ښکلي پوست لامل کېږي. څه ډول پاکه وینه درلودلی شی او کوم څه د دې لامل کېږي چې پاکه وینه ولرئ؟

۱- د دې لپاره چې وینه مو صافه او پاکه شي، په یوه کال کې باید ۳۰ ورځې روژه ونیسئ او د اوړي په موسم کې هرو مرو په خپل غذایي رژیم کې مېوه ور زیاته کړئ.

۲- د ښکلي پوست او پاکې وینې درلودو لپاره له انځرو، نخودو، خرما او شاتو څخه گټه واخلئ.

۳- سالم خواړه او طبیعي مېوې هم د وینې د صافوالي لامل کېږي او په بدن کې خپرېږي؛ ځکه صافه وینه د صاف او شفاف پوستکي لامل کېږي. هغه خوراکي توکي چې وینه صافوي، عبارت دي له نخودو، غنمو، انځرو، بادامو، شیدو او کنجدو څخه. په ټوله کې دغه خوراکي توکي د دې لامل کېږي چې وینه مو صافه او څېره مو ښکلې کړي.